عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۱۰/۰۶

# هغه راتلل ولې معقول او دا نامعقول دي؟

د اسطورو په اړه يوه تيوري دا ده، چې د اسطورو زېږدا لا هم روانه ده، اساطيري چينې لا وچې شوې نه دي. بشريت لا هم د زبرپهلوانانو په تمه دی.

په لرغوني زمانه کې انسانان له طبيعت څخه ووېرېدل او له ويرې يې داسي خدايګوتو ته پناه يووړه، چې دوی پخپله له خپل تخييل څخه راهست کړي وو.

له اسطورو سره د انسانانو له خوا د جوړو شويو دينونو يو توپير دا وو، چې انسانانو راپنځولي اديان د اخلاقي قوانينو او پربنتو ترڅنګ د يو شمېر نورو انسانانو واک، ځواک، پانګې او باداری ته د ځانرسولو وسيلې هم وې.

له پخوا زمانې څخه د چالاکو او چلبازو انسانانو عادت و، چې د خپلې «باداری» لپاره به يې مذهب رامنځته کړ او نور انسانان يې د خدای د استازولۍ له ادرس څخه خپل غلامان جوړول. د مصر فرعونان يې بېلګې دي.

د چالاکی دا لوبه تر معاصرې زمانې پورې هم راروانه ده.

زما خوږ ملګری (ډاکترصاحب) د ختيزې اسيا لپاره پر يوې مهمې نړيوالې څوکی ټاکل شوی دی. دی د هيندوچين ګڼو کوشنيو او لويو هېوادونو ته ځي، د يوې ناپېژاندې دونيا کيسې کوي، داسې کوشنې ټاپوګان هم ګوري، چې زموږ د يوې لويې ولسوالۍ په اندازه، خو يو بېل هېواد وي.

په داسې ټاپوګانو کې يوه يې وانوتو Vanuatu هېواد دی، چې په تانا Tana سيمه کې يې عجيب خلک له يوه عجيب مذهب سره ژوند کوي. د «جان فروم» مذهب، چې لويديزوال يې «کارګو کلېټ» بولي.

کيسه داسې وه؛ د ۱۹۴۰ شاوخوا کې جان فروم يو امريکايي سرتيري، چې دغه ټاپو ته له امريکايي لښکر سره تللی و، يو شمېر خلکو ته ځان د خدای استازی وروپېژاند. د ټاپو خلکو سپين پوستی بنيادم ليدلی نه و. جان له خپلې پوځې بېړۍ څخه خلکو ته شيدې او ښه خواړه ورکړل، خلکو ورو ورو د هغه په پربنتنه پيل وکړ. جان ورته وويل: که زما په شان اعمال وکړئ، خدای به هرکله ښه خواړه او نور څيزونه درته رااستوي. خلکو ومنله او نوی مذهب رامنځته شو.

جان د مقدس استازي رول ولوباوه، خلک يې اېل کړل، خلکو د «ښه خوراک» او له بهره راغلې هوساينې په تمه د جان پربنتنه پيل کړه. يو مهال داسې شو، چې جان بېرته ولاړ، خو مذهب يې تر نن پورې پاتې شو. د تانا سيمې خلک هر کال د فبرورۍ ۱۵مه د جان فروم د سپېڅلتيا اختر لمانځي، دوی دوه ډلې دي، يوه برخه وايي، چې جان په الوتکه کې له ختيځ څخه راځي او بله برخه وايي: نا، جان به له لويديځ څخه راځي. دوی په ځنګل کې يوځای ونې رېبلې او د جان د راتللو او هرکلي لپاره يې ځای جوړ کړی. دوی د جان په پلوی هره ورځ پوځې پرېټ کوي. پوځې پرېټ د دوی عبادت دی.

اتيا کاله روسته يو کاناډايي ژورناليست دې سيمې ته ورغی او له خلکو سره يې د دوی د مذهب په اړه مرکه وکړه. له دوی يې وپوښتل، چې ولې فکر کوي، جان به خامخا راځي؟

کوم جانپربنتي له خبريال څخه وپوښتل: ستا دين څه دی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خبریال وویل: عیسوي یم.

جان‌پرښتي وویل: تاسو دا دوه زره کاله په تمه یاست، چې عیسی به بېرته راځي، نو ولې به موږ سل دوه سوه کاله د انتظار حق ونه لرو؟

هغه راتلل ولې معقول او دا نامعقول دي؟

دا پوښتنه مهمه وه او په دونیا کې یې شور جوړ کړ.

جان باداري غوښته،

د تانا خلکو رواني شیدې، خواړه، ماکروني او نور ښه خواړه.

جان د خلکو په محرومیت، ولږه، ناخبرۍ، ناپوهۍ، ریښتینولۍ، سادګۍ کې پانګونه وکړه او خلکو د مادي نعمتونو په تمه د هغه پرښتنه و لمانځنه پرځان فرض کړه.

د جان د باداریغوښتني غریزې او د تانا خلکو د تلپاتې نعمتترلاسه کولو غریزې یو نوی مذهب راوپنځاوه. په دې منځ کې هغه څه چې نه وو، هغه د خلکو پوهه، ویښتیا او شعور او د جان ریښتینولي وه.

په نویو پوهنو کې خلک د هغو مذهبونو ریښتینولی ته د شک په سترګه ګوري، چې د هغوی وجودي منطق د ځینو کسانو باداری ته رسول وي.

**ویښتیا، روښانتیا اوبدلون**



په عکس کې د تانا د خلکو د پوځي پرېټ او پرښتني یوه برخه ګورئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ